شهسوارسنګروال

۲۰۲۵/۰۹/۱۸

# میرویس نیکه،

## خپلواک که تولواک؟

### ۱برخه

د هند ګورګانیانو او د پارس صفویانو د خپل ځواک او واک د پراختیا لپاره کوښښ کاوه، چې افغانستان ولکه کړي. دواړو غاړو هڅه کوله لومړي په ټول افغانستان او په ځانګړی ډول په کندهار ولکه ټینګه کړي.

ګورګانیانو پخپلي ټولي ځواکمنتیا هڅه کوله، چې د هند له نیمي وچي راواوړي او یو د بل پسي د افغانستان سیمي لاندې کړي.

لکه چي ومووېل، لومړی د هند په شمال کي مغلي واکمن له هغو پښتنو سردارانو سره لاس و ګرېوان شول، چي هغویٔ لسګونه کاله، د بېلګي په توګه لودیانو واو سوریانو د هند په نیمه وچه سلطنت کړی وه.

دویم یو شمېر ملي ازادي بښونکي غورځنګونه ول، چي د هندي مغلو پر وړاندې پاڅونونو ته لاره اواره کړه چي دغو ملي اتلانو د هند له شمال او ختیځ نه نیولي د افغانستان تر سیمو پوري خپل مقاومت ته دوام ورکړ، چي موږ یي د ساري په توګه یادونه کوو:

۱ـ که څېر موږ د یو شمېر تاریخپوهانو څرګندونو ته تم شو، چي افغانانو د هېواد په بیلابیلو سیمو کي خپل تاریخي ویاړونه خوندي کړي دي، دې پایلي ته رسیږو، چي افغان ولس د یوه ژوندي ملت په توګه د څومره والي او څرنګوالي له مخي خپل تاریخي مسولیت ادا کړیدی.

د سلطان محمود د دربار یوه نامتو تاریخپوه ابو نصر العتبی او همدارنګه نورو لکه عبد الحی بن ضحاک ګردیزی په زین الاخبار کي، ابو فضل بیهقي، البیروني، فخر مدبر مبارکشا د غوریانو په دربار کي منهاج السراج په طبقات ناصري کي سیف بن محمد هېروي (تاریخنا مه هرات)، مراکشي سیلاني ابن بطوطه په «رحله» نومی کتاب کي او په لسګونو کورني او بهرني لیکوال یادولی شو، چي افغانانو که هغه د غور اوسیدونکي وو، یا له سیستان نه تر کندهاراوان تر پېښوره پوري دغو وګړو له سیمه ییزو واکمنیو راواخله تر تولواکمنیو پوري، له پارس نه نیولي تر هند پوري سلطنت کړیدی.

د غوري بادشاهانو یوه منشي فخر مدبر مبارکشاه په اداب الحرب والشجاعه کي په دې ټینګار کړیدی، چي له سلطان محمود دمخه لودي افغان مشرانو د «جیپال» په دربار کي د «کوټوال» دنده په غاړه درلوده .

وروسته بیا همدغو لودي مشرانو په ملتان کي د یوه حکومت بنسټ کېښود، چي موږ شیخ حمید لودي، نصر لودي او داود لودي د ساري په توګه یادولی شو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

د غزنوي دربار یو تاریخپوه «العتبي» په دې اند دی، چې د سبکتګین زوی غزنوي سلطان محمود په لښکر کې همدغه افغانان د سرتېروپه توګه هند ته لاړل.

د طبقات ناصري مولف منهاج السراج جوزجاني کښلي دي، چې د سلطان معزالدین سام په لښکرو کې هم همدې افغانانو غوښن ګډون درلود.

جوزجاني د «الغ خاني» (چې وروسته د بلبن په نوم نامتو شول) یادونه هم کړېده چې درې زره (۳۰۰۰) پلي او سواره افغان جنګیالي د دوی په لښکرو کې په ډېرې میړانی او زړورتیا جنګېدل.

په هندوستان کې نه یوازې افغانان یو جګړه ییز ځواک وه، بلکې د خلجیانو د واک په مهال په اداري چارو کې فعاله ونډه درلوده.

د بېلګې په توګه د سلطان علاوالدین خلجي په دربار کې د« اختیار الدین افغان مل» په نوم یو نامتو سردار، د عباس سرواني د څرګندونو پر بنسټ شتون درلود.»[۱]

اختیار الدین افغان مل د خلجیانو په واکمنی کې د ښه نوم څښتن و او ان د سلطان محمد په مهال هم د حکومت اداري چارې پر مخ وړلې. د ده وروکی ورور ملک افغان مل هم نامتو وه او د خلجیانو د واکمنۍ په مهال حکومتي چارې سمبالولې.

سرواني عباس ټینګار کړیدی، چې د قطب الدین مبارک شاه خلجي د سلطنت په پیر کې او هم د سلطان غیاث الدین «تغلق شاه» د واک په مهال پریکړه وشوه چې د هند جنوبي سیمې تر خپلې ولکې لاندې راولي، دواړه ورونه (افغان مل) د سلطان علاوالدین خلجی په مخورو کسانو کې شامل وو.

د سلطان محمد بن تغلق شاه د واک او ځواک په مهال هم یو شمېر نامتو افغانان وه، چې حکومتي چارو کې لاس درلود او ان دا چې یو شمېر کسان یې په دندو وګمارل، چې په هند کې د مسلمانانو یوه حکومتي تشکیل ته لاره اواره کړي.

۲- د دغو مخورو افغانانو په لړ کې یو هم ملک شاهو لودي و، نوموړي په ۱۳۳۴ ز کال د ملتان د والي «بهزاد» پر وړاندې پاڅون وکړ او د سلطنت اعلان یې وکړ، ولې د ډیلي د ځواکونو پر وړاندې مقاومت ونه کړ، له هند نه افغانستان ته راغی.

له ملک شاهو وروسته، ملک اسد خان لودي (۴۰۵ ز کال)، ملک شاه بهرام (اسلام خان ۱۴۱۱ ز) لودي د خضر خان په وسیله «سر هند» لاندې کړ او ګڼ شمېر جنګیالي یې ځان پسې روان کړل.

د لودي کورنۍ یو بل نامتو ملک سلیمان لودي وه، چې د ملتان خلکو ترې ملاتړ کاوه. ده په ۱۴۱۸ ز کال په کابل کې له مغلي چارواکي شیخ علي سره په جګړه کې ووژل شو.

د دې ټولو هلو ځلو په لړ کې، لودي بهلول هغه څوک وه، چې په هند کې د یوه ستر سلطنت بنسټ کېښود، چې د ۴۰ کالو په شاوخوا کې سلطنت وکړ.

له دغه شهینشاه وروسته د ده زوی او لمسي، ورپسې سوري شېر شاه او د هغه زوي یو د بل پسې په هند حکومت وکړ.

ولې کله چې ګورګانیان په هند کې د واک او ځواک خاوندان شول بیا هم افغانان لاس تر زنې پاتې نشول، د بابر، همایون، جلال الدین اکبر، جهانګیر، شاه جهان، اورنګ زیب او نورو مغلی چارواکو پر ضد مبارزه وکړه، چې موږ په دغه لړ کې یو شمېر پېښتانه نوابان، پیر روښان او د هغه کورنۍ، خوشحال خان خټک او د هغه کورنۍ، ایمل خان او دریا خان د ساري په توګه یادولی شو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

سره د دومره قربانیو او هلو ځلو ختیځو افغانانو په افغانستان کې د یوه ملي حکومت بنسټ ټینګ نشو کړی او لویدیځ پلو ته پرتو افغانانو هم نه یوازې د ګورګاني سردارانو او هندي مغلانو پر ضد پاڅونونه وکړل، بلکې د صفویانو پر وړاندې هم ودرېدل او په دې لاره کې ډېره قرباني ورکړه.

که افغانانو او په دغه لړ کې لودیانو، سوریانو او نورو افغان قومونو او ټبرونو د زورواکو مغلو پر وړاندې وسله واله مبارزه او پاڅونونه وکړل ، بل لورته د صفویانو او د نورو افغان ټبرونو تر مینځ هم داسې سیاسي اوجګړه ییزو ستونزو هم شتون درلود.

څرنګه چې د مغلو او ګورګاني واکمنو پر وړاندې مومندو، لودیانو، سوریانو، نیازیو، خټکو، یوسفزیو او نورو افغانان قومونو پاڅونونه وکړل او د خپلواکی ناره یې اوچته کړې وه،همدارنګه د صفویانو پر وړاندې هم یو شمېر افغان ټبرونو لکه هوتکیانو، ابدالیانو، ناصرو، توخو، تره کو، نیازیو او په لسګونو قومونو پاڅونونه وکړل .

هغه مهال چې د افغانستان یو شمېر سیمې د ګورګانیانو او صفویانو په ولکه کې وې، بیا هم د دغو ښکیلاګرو په مینځ کې په ځانګړې ډول یو ستر ټبر چې توخي نومېږي خپله سیمه ییزه واکمني ساتلې وه.

دغه وګړي په شار صفا، قلات، شاه جوی، ارغنداب او د زابل ولایت په بیلابیلو سیمو کې د واک او ځواک څښتن ول. د دغو خلکو نومیالی مشر شاه محمد کلاتي نومیده، چې د همایون په وخت کې د کندهاروالي وه. له ده نه وروسته سلطان ملخی یو بل مېړنی اتل وه، چې د اورنګ زیب په وخت کې د زابل حکمران وه. دده په مهال د صفویانو او غلجیانو تر مینځ سختی نښتې وشوې.

هغه وخت چې جهانګیر ګورګانی په ۱۶۰۵ ز کال د جلال الدین اکبر ځایناستی وټاکل شو، صفوي پاچا د «حسین خان» تر مشرۍ لاندې یو لښکر له هرات نه کندهار ته واستوو.

د کندهار والي شا بیګ د جهانګیر د پوځ په ملاتړ د صفویانو ځواکونه په شا وتمبول او جهانګیر هم له کابل نه بیرته هند ته ستون شو.

کندهار تر ۱۶۲۲ ز کال د هند د مغلي حکومت په ولکه کې وو، چې وروسته بیا شاه عباس ونیوه. که څه هم نوموړي ۲۷ کاله وړاندې جلال الدین اکبر ته پرې ایښی وه، خو د جهانګیر د واک په مهال یې بیرته لاندې کړ او د کندهار والي عبد العزیز ته یې ماته ورکړه.

**له میرویس خان نه دمخه**

د هوتکیانو له سیاسي واکمنی دمخه یو شمېر سیمه ییزه واکمن، چې د غلجي او ابدالي قومونو پر مټ سیاسي ډګر ته راوتي وو، صفوي او ګورګاني واکمنو ته د پام وړ ګټل کېدل.

سره د دې چې د یوه ټولنیز مصلحت او قومي جوړښت له مخې د پنځلسمي (۱۵) پېړی په شاوخوا کې غلجي پښتانه په ګڼ شمېر کې د کندهار ښار شمال او شمال ختیځ پلو ته ان تر کابله پورې خواره واره پراته وه، ولې ابدالي قومونه تر ډېره بریده د کندهار ښار جنوب او جنوب لویدیځ لور ته ان ترهرات او سیستان پورې اباد وو.

خو دواړو غاړو کوښښ کاوه، چې د ارغنداب ابادې ځمکې ان تر هلمنده پورې یو د بل پسې لاندې کړي.

په یادو سیمو کې مېشت پښتانه هم وېشلي وه او دوئ هم هڅه کوله، چې د خپل خیل قوم اوټبر خلک په دغو پراخو سیمو کې ځای پر ځای کړي او دغه حاصل خیزې ورشو ګانې، چې د څړځایونه یې درلودل ښېرازې اوورغوي.

دغه ډول هڅې له یوې خوا ډېرو نه ډېرې د یوې سیمې په کچه وې نه دې ټولو پښتنو قومونو لپاره او له بلې خوا داسې نه وه چې په هرې ټاکلې سیمه کې یوازې یو قوم اباد وه. د مثال په توګه د یوسفزیو یو ډله لکه په تواریخ حافظ رحمت خاني کې چې راغلي دي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«يوسف زي په پنځلسمه (۱۵) پېرۍ کې له کندهار نه زابل، غزني او کابل ته وکوچېدل . »(معظم شاه ۱۵-۷مخونه) حال دا چې په يادو سيمو کې هوتکيان، توخي، تره کي، ناصر او نور قومونه هم اباد ول.

همدغسي له کندهار نه تر نيمروز، فراه، هرات او ان تر بادغيس پورې، نه يوازې غلجيان ودان ول، بلکې نورزی، بارکزي، اڅکزي، پوپلزی او نور قومونه هم استوګن ول. د دوئ تر مينځ خپل مينځي جګړې هم کېدې خو دغه جګړې د قومي شجرو له مخې داسي نه دي شوي، چي يوازې د غلجيانو او ابداليانو تر مينځ شوي، بلکي د بيلابيلو ټبرونو او خيلونو تر مينځ هم شويدی، چي موږ د کرلانيو او نورو قومونو خپل مينځي جګړې د بېلګي په توګه يادولی شو.

يو شمېر هغه قومونه چې د ستر کندهار په شاوخوا سيمو کي اباد وو دوئ که کله کله خپل مينځي ستونزې درلودې، خو تر ډېره بريده د ملي يووالي په رڼا کې يو د بل ملاتړ ته هم دريدلي دي.

د ساري په توګه «ګريفن» په دی ټينګار کوي چې کله (۱۰۳۶ ه ــ ۱۶۲۶ ز) خضر خان ومړ، زوی يې خدا داد خان له خپلو ګاونډيو غلجيانو سره اړيکې دوستانه کړې او قومي جرګو او مرکو له مخې سلطان ملخي سره سلا او مشوره کوله.

صفوی دربار که سدوخان ته د امير افاغنه لقب ورکړ، خو د ډيلي درباراوسرکار بيا د ده لمسي شير خان ته د «شهزاده» لقب ډالی کړ. دوئ ان تر دولت خان پورې (دولت د سرمست زوې د شېر خان لمسی د خضر خان کړوسی او د سدو کوسی کېده) له شارې صفا نه تر ارغستان، له کندهار نه تر فراه، همغسي تر سيستان او شينې ډنډ پورې دغه پراخه سيمه بيزه واکمنی د دوئ د واک او ځواک برخه وه، ان دويم صفوي شاه عباس يو ليک (۱۶۴۹ ز) دولت خان ته ليکلی واو هغه يې د کندهار د کلا کوتوال نومولی و.

که دغه سيمه بيز واک د دولت خان په لاس کي و، خو حيات سلطان ابدالي په دغه مهال ملتان کي اوسېده.

ولې له دولت خان وروسته زوې له صفوي حکومت سره څرګنده دښمنی ځکه نشوه کولی، چي زمان خان له هغوئ سره يرغمل و.

دلته دی چي د يو شمېر پښتنو قومونو مشر توب ميرويس خان ته ورپه غاړه شواوله ميرويس خان هوتک نه دمخه هم يو شمېر داسي غلجي مشران تېر شوی وو، چي سياسي اړيکي يې د پارس د صفويانو په پرتله د هند له ګورګانيانو سره خوږې وې. د بېلګي په توګه د بابر زوې همايون د کندهار چارې «شاه محمد کلاتي» ته سپارلي وې.

د اورنګ زيب د (اورنګ زيب د شاه جهان زوی، د جهانګير لمسی، د جلال الدين اکبر کړوسی او د همايون کوسی کېده) واک په مهال سلطان ملخی د کلات والي وټاکه او هم يې (۱۶۸۱ ز-۱۰۹۳ ه) د يوه فرمان په ترځ کي د ټولو غلجيو سردار او ملک ونوموه.

سلطان ملخي په ډېرې اوښياری د ابداليانو له مشر خدا داد سلطان سره نه يوازې ښې اړيکې وپاللې، بلکې د يوه تړون له مخې د «جلدک» د ګرماوناوه يې يو خپل مينځي بريد وټاکه.

غلجيو د پارس له صفويانو سره ډېرې جګړې وکړې او کله چي سلطان ملخی ومړ پر ځاې حاجی عادل دهغه ځای ناستي شو، چي د واک او ځواک پلاز يې د «ترنک» د رود پر غاړه کلات او چختران وو، خو« لسترنج» يو برتانوی ختيځپوه په دې اند دی چي په مينځنيو پېړيو کي پنجوايي د کندهار پلازمينه وه چي د ارغنداب او ترنک تر مينځ پروت دي»[۲]

سلطان ملخی توخی، چي د مخه وويل شول د پښتنو يو نامتو مخور مشر و،چي د نازو انا پلار کېده او د ميرويس هوتک مورنی نيکه وه.

ميرخان مشهور په ميرويس نيکه د خپلو نيکونو په څېر د خپل ټبر مشر و تاکل شو او په ډېرې سياسي هوښياری يې د يوه ملي حکومت بنسټ کېښود.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**میرویس هوتک څرنګه واک ته ورسېد؟**

سره د دې چې افغانستان د دوه سترو ځواکمنو حکومتونو (د پارس صفویانو او د هند ګورګانیانو) تر ولکې لاندې وو، ولې بیا هم د دوارو ښکیلاک ګرو حکومتونو پر وړاندې یو د بل پسې د افغانانو له خوا پاڅونونه کېدل.

له یوې خوا د پرلپسې پاڅونونو رغنده رول، د خلکو اتلولي او سربښندنه او له بلې خوا د اورنګ زیب له مرګ نه وروسته د مغلي شهزادګانو کمزوري وه.

همدغسې د افغانستان بل پلو په لویدیځ کې د صفوي شهزاګانو بېباکي، چې هره شېبه یې، د ظلم، بد اخلاقي او ناوړه کړو وړو له امله ولس له ګڼو ستونزو سره مخ کړی و، چې څو بېلګې یې داسي دی.

۱ـ د یوه اروپایي تاریخپوه «دِن ګارسیا »د خولې خبره، چې ډاکتر احمد تاج بخش یې یادونه کړیده، شاه عباس به چې له کوم سفر نه راوګرځېد اعلان به وشو، چې ټول مسلمانان او مسیحان د خپلې لوڼې او میرمنې ټاکلی بازارته بوځي !؟ هلته به څو تنو ته سپارښتنه شوې وه، چې ښکلی او تنکی نجونې غوره کړی .

له دوئ سره به ټوله شپه عیاشی کېده او سبا به ښاریانو ښځې خپلو کورونو ته ستنې کړې او بیا به شا عباس څو ارمني نجونې حرمسرای ته بوتلې.»[۳]

۲ـ همدارنګه د شاه سلیمان او د هغه د زوی صفوی شاه حسین د واک په مهال هم، چې دوئ به شراب وڅکل، نو بیا به یې نجونې نڅولې او ټوله شپه به یې په عیاشۍ او بېباکۍ تېره کړه، که څه هم شاه حسین په وروستیو کې مذهبي افراطیت ته هم مخه کړې وه .

۳ـ د مالیاتو ټولول، چې ډېر زیان یې ولس ګاله او دوئ بیا دغه شتمنې او راټوله شوې مالیه په عیاشۍ لګوله، دا یو بل ستر ګواښ وه، چې خلک یې له ډېرو کړاوونو سره مخ کړي وو.

۴ـ د سوني او شیعه مسلمانانو تر مینځ مذهبي تاو تریخوالي، ناندریو او بد مرغیو ته لاره اواره کړې وه ، کوم ټولنیز ارزښتونه، چې د رنسانس له پیر سره سم د نړۍ په تاریخ کې مینځته راغلل، له پارس نه تر کندهاره پورې ولسونو تری کومه سیاسي او اقتصادي ګټه تر لاسه نکړه بلکې د تمدن له دې بهیره وروسته پاتې شول.

د دغه بوګنوونکي ناورین او غمیزو په لړ کې د صفوي واکمنو وژنې وې، چې په دې تړاو، پولینډی کشیش کروسینسکی پخپل کتاب کې داسې کښلي دي: د سلطان حسین صفوي پلار «شاه سلیمان دومره ظالم او خونړی واکمن وه، چې خپل زوې یې وواژه او میرمن یې د خپل زوې د وژنې له امله شاهي مانۍ ته پورته شوه او ځان یې له بامه وغورځوه. بل زوې یې هم وواژه چې د بڼ ځانګې یې غوڅې کړیوی .»[۴]

دغه سیلاني تاریخپوه د صفوي واکمن سلطان شاه حسین د واک په وخت کې اصفهان ته راغی او شاوخوا شپږ میاشتی هلته تېر یې کړې او د صفوي سردارانو ظلمونه یې پخپلو سترګو لیدلی وو اوحال دا چې صفوي شاه سلیمان د خپل هغه زوې چې میرزا عباس نومېده په پرتله میرزا شاه حسین هوښیار او د تاج و تخت لپاره وړ او مناسب ګاڼه.

کروسنسکي نه یوازې د صفوي شهزادګانو تېروتنې پخپلو سترګو لیدلي وې، بلکې په دې اړه یې د عثمانیانو له تاریخ نه هم ډېر څه تر لاسه کړي وو.

همدا لامل دی، چې ده د صفوی شاه اسماعیل بن «جنید» د ۴۰ کلن سلطنت ډېرې پېښې پخپل اثر کې راغبرګې کړیدي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کروسنسکي ټينګار کوي، چې دوئ له شاه اسماعيل صفوي نه تر صفوي شاه حسين پورې واک درلود او دولس هېوادونه يې تر ولکې لاندې وو، چې عجمي عراق، خوزستان، لرستان، پارس او کرمان، مکران، عربي عراق، کندهار، زابلستان، سيستان، خراسان او مازندران، ګيلان، اذربايجان چې عبارت له «ايروان» شيروان، ګرجستان او داغستان څخه وو.»[۵]

نوموړي د صفوي شاه حسين په کړو وړو ځانګړې تبصره کړې ده، چې ګڼي که ده د امام رضا د زيارت کولو او د نورو مذهبي مراسمو د ادا په لاره کې پيسې لګولې، مانا دا چې دی شيعه مذهب ته ډېر ژمن و، چې ان د شراب څکلو نه يې توبه وکړه او حال دا چې خلک دومره په شرابو روږدي شوي ول، چې سلطان ته يې خواست وکړ، چې په شرابو لګول شوی بنديز مات کړي ، ان دا چې خلکو دده مور واسطه کړه، چې هغه بېرته دېته اړ کړي چې شراب خوړلو اجازه ورکړي.

موري دده د رضا کولو لپاره ځان په ناروغی واچوه او په پاې کې صفوي شاه حسين ته سپارښتنه وکړه، چې د خپلو نيکونو په څېر د غم غلطولو لپاره يو څو پيالي شراب وڅښي ، نوښه به وي .

خو بيا هم د ده دولتي چارې له ځوړتيا سره مخ وې، چې څو لاملونه يې د پام وړ وو.

۱ـ له دولتي چارو سره بې پروايي د ده د حکومت ستني ولړزولی.

۲- د شاه عباس د قانون له مخې د لويو ښارونو خلکو ته سپارښتنه شوې وه، چې د کعبې د زيارت پرځای په هېواد کې دننه د امامانو زيارت ته لاړ شي او که چا به حج ته د تللو نيت وکړ، نو بايد پاچا ته يې رشوت او بډې ورکړې وی.

۳- هر چا د صفوي دولت د زوال لپاره هڅه کوله، ان تر دې چې د دربار وزيران هم په دوه ډلو وېشل شوی وو، چې د دغه نا يووالي له کبله په دينی، دولتي او په ټولو ټولنيزو چارو کې ستره ګډوډي او بې نظمي مينځته راغله.

که له يوې خوا صفوي دولت د زوال او کمزورئ لور ته روان و، خوله بلې خوا د کندهار مخورو په سر کې دولت خان ابدالي او «حيات سلطان» تر مينځ ناخوالو او سياسي ناندريو هم فضا خړه پړه کړې وه .

۴-- که څېرى دوئ پخپلو کې ملي يووالی ټينګ کړی وی، نو د ګورګين له خوا به دولت خان سدوزی نه وی وژل شوی.

د ګورګين يوه ستره موخه دا وه، چې لومړی پښتانه پخپلو کې اخته کړي او بيا د خپل ځواک د ټينګښت لپاره ټولوژنې ته لاره اواره کړي.

صفوي دربار هم دغه ګرجي شهزاده ته ځکه د شهنواز خان لقب ورکړ، چې هغه په کندهار کې د دوئ حاکميت ټينګ کړي، خو افغانانو دی ګورګين وباله .

د کندهار، پوشنج، بست، زمينداور، شال، مستونګ د بلوچستان کلات، غلزايي کلات، پښين، ګرشک، فراه، شينډنډ (اسفزار) او يو شمېر نورو سيمو والي يا بيګلر بيګي وټاکل شواوده په داسي ناوړه او خونړيو کړو وړو لاسپوری کړ، چې د هيچا سراو مال خوندي نه وه .

ميرويس نيکه، چې دغه مهال د غلجي قومونو مشر غوره شوی وه، نو ده ګورګين ته سلا او مشوره ورکړه، چې د دغو ظلمونو پايله به ده ته ګرانه تمامهشي ، خو سره د دې چې ګورګين د ابداليانو په پرتله د غلجيانو مشر ته درناوی کاوه، ولې سره د هغې هم د ميرويس هوتک سپارښتنو ته يې غوږ کېښود.

ميرويس ته چې ډېرې ترخې تجربې په ميراث پاتې وې، کوښښ يې کاوه، چې د خلکو په مينځ کې يو والی ټينګ کړي.ده ته هغه تجربه ناکامه ښکاره شوه، چې يو مهال عبد الله خان ګرجي د کندهار د والي په توګه وګمارل شو، د ظلمونو له امله يې خلکو صفوي دربار ته (۱۶۹۸ز-۱۱۱۰ق) شکايت وکړ او چا پرې غوږونه ګروه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نو بیا هغه وخت چي مغلي شهزاده شاه عالم چي کابل کې و، د کندهار خلک ورغلل، چي مرسته تر لاسه کړي، خو دوی پرتله له کومې مرستې بېرته راستانه شول.

۵ــ میرویس هوتک د همدي پېښو پر بنسټ غوره وګڼله، چې پخپل مټ او د خلکو د یووالي په ځواک متکي او داړه شي. ده په لږ وخت کي د پنځوس (۵۰) زره غلجي کورنیو ملاتړ خپل کړ.

دی د ګورګین په دې موخي پوه شو، چي نوموړی غواړي، له میرویس هوتک سره د دوستی په پلمه سدوزیان وځپي، نو ځکه یې دی د کندهار کلانتر وټاکه.

میرویس په ډېرې ځیرکتیا د همدې دندې له مخي له یوې خوا له خلکو سره لا اړیکې پراخې کړی او له بلې خوا یې د ګورګین باور هم تر لاسه کړ.

« لکهارت »هم ددې خبرو پخلی کړیدی، چي ګورګین دولت خان سدوزی وواژه، رستم خان یې لومړی زندان ته واچوه او بیا یې له مینځه یووړ، په پاتې ابدالیانو یې فشار راووړ چي د بکوا او شورابک دښتو ته یې واستوي، ځني یې کرمان او هرات ته تبعید کړل، ددوی حاصل خیزه سیمي یې غلجیانو ته ووېشلې، چي د دوئ تر مینځ نا یوالی رامینځته کړي.

۶--- «ابدالیان چي د ۱۸ مې پیړۍ په سر کې کوم پاڅون د صفویانو پر ضد وکړ، په دغه وخت کي د ابدالي ټبر شمېر، چي یوازې په هرات او فراه کي استوګن ول شپېته (۶۰) زره کورنیو ته رسېده . صفویانو د بې اتفاقي اچوني له مخي په کندهار او زمینداور کي، غلجیانو ډېر زور پیدا کړ.»[٦]

۷--- میرویس هوتک د ګورګین په دې ټولو هڅو پوهېده او دی نه یوازې د غلجیو له ملاتړ نه برخمن وه، بلکي ابدالیانو هم میرویس خان ته درناوی درلود او دده د هڅو ملاتړ یې کاوه.

میرویس خان د صفویانو ډېرې ترخی ناخوالې ځغملي او ډېر څه یې پخپلو سترګو لیدل، چي څو بېلګي یې دا وي:

۱ـ کندهار د خپل جغرافیوی جوړښت له مخې، د هر اړخیزو ټولنیزو ارزښتونو په لړ کي یو هم سوداګریزه پراختیا وه، چي د مینځنۍ اسیا، پارس او هند سوداګرو به خپل توکي له دې لارې نه وړل او راوړل، خو ترانزیتي عاید یې د صفویانو په ولکه کي وه.

۲- کوم پردي صفوي پوځونه چي په کندهار او شاوخوا نورو سیمو کي ځای پر ځای وو، د دوئ لګښت د افغانانو د هېواد په غاړه وه او دا کار میرویس هوتک ته د اندېښني وړ وه.

۳- د صفویانو له خوا د دولت خان او رستم خان له مینځه وړل د میرویس خان لپاره یو لوی درس وه او په دې پوهېده، که ګورګین له مینځه یونسي، نو دی به له مینځه یوسي.

۴- له ترانزیتي عایداتو سربېره د شل زرو صفوي سرتېرو د تغذې لپاره د مالیاتو لوړول یوه بله غمیزه وه او له دې پرته، د یوی کورنۍ ځمکې چي به یې بل ته ورکولی، نو له هغو به یې بډې او رشوتونه اخستل.

۵- د شیعه وګړو ځواکمنتیا او د هغوئ لپاره زیات امتیازات، چي د لګښتونو بار به یې د سوني وګړو په غاړه وه، حال دا چي د کندهار او سیمي ټول وګړي سونیان ول، دا یوه بله لویه بدبرمرغي وه چي ولس ورسره مخ و.

۶- میرویس هوتک په دې پوهېده، چي خلک یوه سخت غبرګون ته سترګی په لاره دی. دی په دې هم پوهېد، که له یوې خوا د کندهار ولس د صفویانو په سر کي د ګورګین له ظلمونو تنګ راغلي وه،چي په سیاسي لحاظ یوه پاڅون ته تیارول، خو له بلې خوا د سلطان حسین صفوي کمزورتیا، خپل مینځي ناخوالې، د یوه با ثباته مرکزي حکومت نه شتون، په حرمسرای او دربار کي د پاچا ساعت تېرۍ او نور لاملونه ول، چي د صفوي حکومت نسکورېدو ته لاره اواره کړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

۷- د خزاني تشېدل او سرتېرو ته د تنخواو نه رسېدل، د سردارانو او ځمکه والو له خوا د خلکو ځورول او په لسګونو ستونزې د صفويانو د غاړې تلک شوې.

دا او د دې په څېر نور لاملونه ول، چې نه يوازې په کندهار کې د ميرويس خان په مشرۍ پاڅون ته لاره اواره کړه، بلکې د ټولواکمنۍ په ډېرو سيمو کې پاڅونونه پيل شول.

د دغو اقتصادي، سياسي، مذهبي او بيلابيلو ټولنيزو لاملونو او انګېزو له مخې په کندهار کې داسي يو ستر پاڅون رامينځته شو، چې د افغانانو په سياسي او ټولنيز ژوند کې يو ستر تاريخی بدلون رامينځته کړ.

---


) سراونی عباس تاريخ شير شاهي د چاپ کال ۱۹۶۴[۱]

) لسترنج، جغرافيه تاريخي، د محمود عرفان ۱۳۳۶، ۳۴۵ مخ[۲]

) تاريخ صفويه ۳۲۳ مخ[۳]

) د مسيحي سلاني کروسنسکي تاريخ د ۱۳۶۳ کال چاپ ۵ مخ[۴]

) کروسنسکي د مسيحي سيلاني تاريخ د شپون ژاړه ۳۹ مخ[۵]

) لکهارت انقراض سلسله صفوي ۹۵--------مخ[٦]





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ